مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند

۲۰۲۰/۰۶/۰۱

# د ماشوم نړیواله ورځ




نن د د دوه زره شلم کال د جون د میاشتې لومړۍ نېټه او د ماشوم نړیواله ورځ ده. د دې ورځې له پیل نه بیا تر پایه ما ته د خپل وطن هغه ماشومان رایادېږي چې:

- په جګړه کې زېږېدلي،
- په جګړه کې لوبېدلي،
- په جګړه کې زلمي شوي،
- او په جګړه کې یا زاړه شوي یا وژل شوي دي.

د ماشوم د نړیوالې ورځې په پار مې لومړی ډېره هڅه وکړه چې ځان له څه لیکلو خلاص کړم، خو په وطن کې له خپلو لومړنیو حقونو د محرومو ماشومانو د غړونو انګازې مې د ککرۍ په کومبزه کې له سهاره تر اوسه چې مازدیګر دی، منډې وهي، چغې وهي او داسې راته وايي چې:

**که اضافه مو څه نه راکول، نه به مو راکول؛ حد اقل زموږ ماشومتوب خو به مو نه رانه اخیسته!**





افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ